## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**19دلو_سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


خوست، غلام خان فرضي کرښه کې مهاجرینو لپاره د ښه راغلاست مرکز جوړېږي----------------------------------1
اتشه امور مهاجرین مقیم تهران، با رییس سازمان امور پناهنده گی ناروی دیدارکرد---------------------------------1
تر ۲۰۰ زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول----------------------------------------------2
بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داوطلب واجباری به وطن برگشت نمودند -------------------------------------2
پکتیکا کې له سلو زیاتو کورنیو سره مرسته وشوه -----------------------------------------------------------3
برای ۱۰۰ خانواده درولایت خوست کمک نقدی صورت گرفت ----------------------------------------------------3
ننګرهار کې څه باندې دوه زره کورنیو سره مرسته وشوه --------------------------------------------------------5
نشست هماهنگی با موسسات در آمریت انتقالات تورخم، ولایت ننگرهار برگزارشد ---------------------------------5
نجات ۱۱۰ مهاجر در بحیره مدیترانه توسط "اوشن وایکینگ" ---------------------------------------------------6
انګلیس کانال: یو تن د کډوالو د کښتۍ چلولو په تور په ۱۸ میاشتو بند محکوم شو ----------------------------------7
»اوشین وایکینک» له مدیترانې ۱۱۰ مهاجر ژغورلي-------------------------------------------------------------9
د ۴۰ لادرکه مهاجرو کورنیو په تونس کې احتجاج وکړ---------------------------------------------------------10

# متن کامل اخبار

## خوست، غلام خان فرضي کرښه کې مهاجرينو لپاره د ښه راغلاست مرکز جوړيږي

د وزارت ويب سايت



**تېره ورځ د مهاجرينو او رستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني خوست، غلام خان فرضي دروازې څخه د ليدنې پرمهال د يو لړ مراسمو په ترڅ کې ددغه دفتر د بنسټ ډبره کېښوده**
**په يادو مراسمو کې د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير وويل، د پسرلي په رارسېدو سره ښايي د راستنېدنې لړۍ لا چټکه شي او له مهاجرينو سره د ګاونډيو ناسم چلند ته په کتو اړينه ده، چې مونږ هراړخيز چمتوالی ولرو**
**په پام کې ده، چې په دغه مرکز کې به د راستنېدونکو مهاجرينو لپاره د ثبت او تثبيت دفتر، کلينيک، انتظار خوني، تشنابونه، لندمهاله ميشت غالی او نورې اړيني اسانتياوې برابرې شي، ترڅو په دغه لار هېواد ته راستنېدونکي مهاجرين له خپلو حقوقو برخمن او له ستونزو سره مخ نشي**

## اتشه امور مهاجرين مقيم تهران، با رييس سازمان امور پناهنده گی ناروی دیدارکرد

ويب سايت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

به اساس گزارش اتشه امور مهاجرین افغان مقیم تهران، عبدالباسط امامی، سرپرست اتشه مهاجرین و ابوبکر صاحبی سکرتر اول و مسوول امور حقوقی سفارت افغانستان مقیم تهران کشور ایران، با آقای فلیپ لوزنسکی، رییس دفتر سازمان امور پناهندگی ناروی در ایران، بتاریخ ۱۱ دلو دیدار نمودند.

آقای لوزنسکی، از ارایه کمک های بشردوستانه آن سازمان به مهاجرین افغان در ایران و سایر کشورها معلومات داده گفت: ما متعهد به ارایه کمک های بشری به مردم افغانستان با رعایت اصل بی طرفی هستیم.

وی تذکر داد، شرایط اقتصادی و امنیتی در افغانستان بهتر شده ما به فعالیت ها ی خود به افغان ها ادامه میدهیم و توجه خاصی به توسعه افغانستان داریم وتلاش خود را در راستای کمک به مهاجرین افغان بیشتر میکنیم.

همچنان وی افزود، ما درسال گذشته به بیش از صد هزار خانواده مهاجر افغان و شهروندان ایران کمک کردیم که 70 درصد آنان افغان ها بود، که گاهی بعضی اوقات از کمک های بشردوستانه ما مشترکاً استفاده نمودند، وی با مثال یادآورشد که مکتب را ساختیم که در کنار فرزندان ایرانی فرزندان افغان نیز از آن استفاده مینمایند.

سپس آقایان امامی و صاحبی از ارایه کمک های بشری آن سازمان در بخش ها ی مختلف به افغان ها مقیم ایران و سایر کشور ها، قدردانی نمودند، آنان از کارکرد و فعالیت به مهاجرین در سفارت بدون در نظرداشت هرنوع مسایل معلومات دادند.

ایشان همچنان خواهان افزایش کمک ها به مهاجرین افغان و بررسی دوسیه ها ی آنان در زمان کمتر شدند.

ریس سازمان متذکره اظهارداشت، ابتدا کوشش نمایم که افغان ها در ایران دارای مدرک قانونی باشند زیرا جهت دریافت کمک های بشری مدارک اقامتی مهم است، وی گفت: بر علاو همه شرایط و مشکلات میخواهیم با شرکای خود صحبت نموده و کمک ها ی بشری را به افغان ها افزایش دهیم.

در اخیر وی ضمن تعهد ارایه کمک های بشری بیشر به مهاجرین افغان تاکید به ارتباط و همکاری بیشتر نمودند.

## تر ۲۰۰ زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

۲۱۰ افغان مهاجرین د سلواغې پر ۱۷ مه نېټه د تورخم او سپین بولدک له پولو څخه خپل هېواد ته راستانه شول.

د ننګرهار د تورخم د سرحدي آمریت د راپور له مخې ۲۴کورنۍ چې ۱۲۵ تنه کیږي په جبري توګه له دغې پولې څخه راستنې او د مهاجرینو په اداره کې تر ثبتېدو وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.

د کندهار د سپین بولدک د سرحدي آمریت د راپور له مخې۱۷ کورنۍ چې ۸۵ تنه کیږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې او د مهاجرینو په اداره کې تر ثبتېدو وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ ، د خوړو او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.

هرې کورنۍ ته د ګونارل شوې کمپټې له لوري لس لس زره افغانۍ ورکړل شوې.

## بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داوطلب واجباری به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت

یک هزار و ۶۱۵ نفر مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۱۷ دلو ازطریق اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.

به اساس معلو مات آمر سدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۶۷۴ نفر ایشان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.

۶۸ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی همچنان برای ۶۱ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی ، برای ۷۹ تن یک عدد سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.

و تعداد ۳۷۵ تن دیگر از خدمات صحی نیز بهره مند شدند.

## پکتیکا کې له سلو زیاتو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




په پکتیکا ولایت کې د سلواغې په ۱۷مه پر ۱۰۵ کورنیو د خوراکي توکو مرسته ووېشل شوه.

یادې کورنۍ پخوا د دغه ولایت په زرغون ښار، زېروک او سرروضي ولسوالیو کې مستحقې پیژندل شوې وې.

هرې کورنۍ ته د خوراک نړیوال سازمان له لوري او هلته د مهاجرینو ریاست تر څارنې درې ډوله خوراکي توکي ورکړل شول.

## برای ۱۰۰ خانواده درولایت خوست کمک نقدی صورت گرفت

ویب سایت وزارت



ریاست امور مهاجرین ولایت خوست از توزیع کمک نقدی برای ۱۰۰ خانواده درآن ولایت به تاریخ ۱۷ دلو خبرداد.

خانواده های مذکور قبلاً در ولسوالی باک مستحق شناخته شده بودند.

قسط اول کمک متذکره جهت ساخت و ترمیم سرپناه به هریک از ۸۵ خانواده مبلغ ۱۱ هزار و ۶۵۰ افغانی و به ۱۵ خانواده دیگر مبلغ ۳۰ هزار افغانی کمک شورای مهاجرت ناروی توزیع شد.

## ننگرهار کې څه باندې دوه زره کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**د ننگرهار ولایت د مهاجرینو ریاست د معلوماتو له مخې، د سلواغې پر ۱۷مه په دغه ولایت کې دوه زره ۵۰ راستنېدونکو کورنیو نغدي مرسته او غیر خوراکي توکي ورکړل شول.**

**دغه مرسته له ۱ زر او ۵۰۰ کورنیو سره ۳۲۰۰ افغانی، ۵۰ کورنیو ته ۲۴ زره او ۱۳۰ افغانی د اکشن اېډ موسسې له خوا او پر ۵۰۰ نورو کورنیو د ژمنیو جامو کڅوړې د اسلامي رېلیف موسسې له لورې د دغه ولایت د کډوالو چارو ریاست په څارنه ووېشل شوې.**

## نشست هماهنگی با موسسات در آمریت انتقالات تورخم، ولایت ننگرهار برگزارشد

ویب سایت وزارت




نشست هماهنگی آمریت سرحدی تورخم ریاست امور مهاجرین ولایت ننگرهار با نماینده ها ی موسسات همکار که برای عودت کننده گان فعالیت می کنند درآن ولایت بتاریخ 17 دلو برگزارشد.

در جلسه نمایند ها ی موسسات به ارائه مروری مختصر از فعالیت خود پرداختند.

نمایندگان شورای مهاجرت ناروی و د نمارک مشکلات شان را از ناحیه نبود جای مناسب مطرح نمودند، و نماینده موسسه HARO نیز در مورد افراد زیر سن قانونی که تبعه پاکستان هستند و از ایران به افغانستان فرستاده شده اند که توسط کشور پاکستان اجازه بازگشت به کشورشان را ندارد مطرح نمود.

بخت جمال گوهر خدران ،آمر انتقالات تورخم اطمینان داد که با همکاری مقامات عالی رتبه امارت اسلامی با حضور کمیسار تورخم راه حلی برای این مشکل پیدا خواهد کرد.

درپایان آمر انتقالات در تورخم، از راه حل و هرگونه همکاری اطمینان داده و از همکاری موسسات در زمینه قدردانی نمود.

## نجات ۱۱۰ مهاجر در بحیره مدیترانه توسط "اوشن وایکینگ "

مهاجرنیوز




به گزارش سازمان امدادی "اس او اس مدیترانه" کشتی نجات "اوشن وایکینگ" ۱۱۰ مهاجر را در بحیره مدیترانه نجات داده است. این عملیات در آب های بین المللی و در نزدیکی لیبیا انجام شده است.

سازمان امدادی "اس او اس مدیترانه "که این کشتی را اداره می کند، در "اکس" (توییتر سابق) اعلام کرد که "اوشن وایکینگ" سه شنبه یک قایق بادی مزدحم را در بحیره مدیترانه کشف کرده و به کمک آن شتافته است.

۳۶ فرد خوردسال و بدون همراه، یک کودک یک ساله و دو زن باردار در شمول نجات یافتگان هستند. عملیات در آب های بین المللی در نزدیکی لیبیا بعد از یک تماس اضطراری صورت گرفته است. اکنون سازمان "اس او اس مدیترانه" و سازمان بین المللی صلیب سرخ به نجات یافتگان رسیدگی می کنند.

قبلا کشتی نجات "گئو بارنتس" که توسط سازمان داکتران بدون مرز اداره می شود، ۱۳۴ مهاجر را از غرق شدن در بحیره مدیترانه نجات داده است .این سازمان در شبکه اجتماعی «اکس» گفته است که این عملیات در روز دوشنبه انجام شده است و بسیاری از نجات یافتگان زنان و کودکان بوده اند.

بحیره مدیترانه یکی از خطرناک ترین راه های فرار در جهان است. طبق گزارش سازمان بین المللی مهاجرت(IOM) ، در سال ۲۰۲۳ بیش از ۳۰۰۰ تن در حین عبور جان خود را از دست داده یا مفقود شده اند. از ابتدای سال ۲۰۲۴ تا به حال شمار آن ها به ۱۱۰ تن می رسد. تعداد موارد گزارش نشده احتمالاً بسیار بیشتر است.

## انګلیس کانال: یو تن د کډوالو د کښتۍ چلولو په تور په ۱۸ میاشتو بند محکوم شو

مهاجرنیوز




**برېتانوي چارواکي وايي يو دوه ويشت کلن سوډانی د کانتربري محکمې له خوا د کډوالو د کښتۍ چلولو په تور په ۱۸ میاشتو بند محکوم شوی دی. پر نوموړي تور و چې هغه کښتۍ يې چلولې ده چې برېتانيا ته اوښتونکي ۷۰ کډوال پکې سپاره ول.**

**په برېتانيا کې د جرايمو پر وړاندې د مبارزې اداره وايي وروسته له هغه چې سمندري ځواکونو د ۲۰۲۳ د سپتمبر په ۲۶مه د کېنټ په ساحلي اوبو کې د کډوالو يوه لويه بادي بېړۍ وژغورله، دوه ويشت کلن هومالو ماووم دووپ د کښتۍ د چلوونکي په توګه وپېژندل شو. په دې کښتۍ کې چې د فرانسې له سانګت ساحل څخه يې د برېتانيا پر لور حرکت کړی و تر ۷۰ ډېر کډوال سپاره ول.**

**په همدغه ورځ فرانسوي چارواکو د اپال په بلبريو ساحل کې چې کالې ته نږدې موقعيت لري <u>د يوی ځوانی اريترياپي ښځې مړی موندلی</u> و. ياده ښځه په يوه داسې کښتۍ کې سپره وه چې له کډوالو ډکه وه او ګومان کېده چې د مهاجرو ګڼې ګوڼې پر مهال تر پښو لاندې مړه شوې ده. د يادې پېښې په اړه لا هم پلټنې ادامه لري.**

**د جرايمو پر وړاندې د مبارزې اداري په يوه خبرپاڼه کې ليکلي دي، دغه کس چې زرغون جاکټ يې اغوستی و د کډوالو کښتۍ چلوله. خو کله چې ساحلي ځواکونه ور نږدې شول، د کښتۍ ماشين يې ودراوه او له شتربنګ څخه يې ځان لرې کړ.**

**دا هم ولولئ**
**<u>د کډوالو د کښتۍ ډوبېدنه: يوتوپيا ۵۶ سازمان د سمندري قومندانۍ پر وړاندې شکايت ثبت کړی</u>**

**اته لس مياشتې زندان**

**هومالو ماووم دووپ په یوه مرکه کې ویلي دي، د ۲۰۲۱ په فبرورۍ کې له سوډانه وتلی او د چاډ، لیبیا، تونس او ایټالیا له لارې یې ځان فرانسې ته رسولی دی. د جرایمو پر وړاندې د مبارزې ادارې په خبرپاڼه کې راغلي دي، ماووم دووپ لومړی ادعا کوله چې کښتۍ یې نه ده چلولې او له سپرلیو څخه یې پیسې نه دي غوښتې، خو وروسته یې پرې لګول شوي تورونه ومنل.**

**دغه سوډانی د کانتربري محکمې د فبرورۍ په ۲مه په ۱۸ میاشتو بند محکوم کړ.**

**د اروپا ځینو هېوادونو کې یو شمېر کډوال د کښتیو او یا موټرو د چلولو په تور په بند سزا محکومېږي. ډېری وختونه پر دغو کسانو تور لګول کیږي چې »ناقانونه کډوالۍ» ته یې لاره هواره کړې ده. خو د بشري حقونو سازمانونه بیا دغه کډوال «د قاچاقبرو د ښکار» قربانیان بولي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>هغه کډوال چې اروپا کې «د قاچاقبرو د ښکار» قرباني کیږي</u>**

## »اوشین وایکینګ» له مدیترانې ۱۱۰ مهاجر ژغورلي

مهاجرنیوز



**د «اوشین وایکینګ» په نوم مرستندویه کښتۍ په مدیترانه کې تر سلو زیات مهاجر له سمندره ژغورلي دي. په ژغورل شوو کې بې سرپرسته تر سن کم ماشومان هم شامل دي.**

د «اس او اس مدیترانې» سازمان د ایکس پر خواله رسنی (پخوانی ټویټر) باندې لیکلي دي چې د شنبې او سه شنبې تر منځ شپه کې یې مرستندویه کښتی «اوشین وایکینګ» د مهاجرو یوه ربړي کښتۍ ولیدله. د دغه سازمان د اعلامیې له مخې یاده ربړي کښتۍ تر اندازې زیاته له انسانانو ډکه وه. زیاته شوې چې له یادې کښتۍ څخه په ژغورل شوو کسانو کې ۳۶ بې سرپرسته تر سن کم عمر لرونکي ماشومان، یو کلن شودې رودونکی ماشوم او دوې حامله داره مېرمنې هم شاملې دي.

یاد مرستندویه سازمان ویلي دي چې مرستندویانو د هغه وروسته د مهاجرو د کښتۍ تلاش شروع کړ او هغه یې وموندله، کله چې د «آلارم فون» په نوم مرستندویه سازمان لخوا د بېړني حالت خبر ورکول شو چې په نړیوالو اوبو کې د لیبیا ساحل ته نژدې یوه کښتۍ د ستونزو سره مخامخ ده. «آلارم فون» په سمندر کې د بېړني حالت سره مخامخ کېدونکو کښتیو په هکله معلومات وړاندې ورکوي. مرستندویه سازمان ویلي چې د ژغورل شوو کسانو مراقبت د اس او اس میدیترانې او د سره صلیب همکارانو لخوا کیږي.

له دې مخکې د بې سرحده ډاکټرانو د سازمان مرستندویه کښتۍ «جیو بیرنټس» په مدیترانه کې ۱۳۴ مهاجر له ډوبېدو څخه ژغورلي ول. په دغو ژغورل شوو کې مېرمنې او ماشومان هم شامل ول. یاد سازمان د ژغورنې د خپلو یادو ژغورونکو عملیاتو په تړاو د دوشنبې په ورځ (د ۲۰۲۴ کال د فبروری ۵ نېټه) پر ایکس خواله رسنی اعلامیه خپره کړې وه .

مدیترانه د مهاجرت لپاره له ټر ټولو خطرناکو سمندري لارو څخه یوه بلله کیږي. د مهاجرت د نړیوال سازمان آی او ام د معلوماتو په حواله په ۲۰۲۳ کال پر دغه لاره تر ۳۰۰۰ زیات انسانان ډوب شول. د ۲۰۲۴ کال د پیل راهیسي ۱۱۰ انسانان ډوب شوي دي. اټکل کیږي چې ښایي د هغو کسانو شمیر هم ډېر زیات وي چې ډوبېدنه یې ثبت شوې نه ده.

## د ۴۰ لادرکه مهاجرو کورنیو په تونس کې احتجاج وکړ

مهاجرنیوز




**د هغو ۴۰ مهاجرو د کورنیو غړو په تونس کې احتجاج وکړ چې تېره میاشت د مدیترانې په سمندر کې لادرکه شول .**

**د لادرکه شوو کسانو د کورنیو غړو د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۴ کال د فبروری ۶ نېټه) په تونس کې احتجاج کې له چارواکو غوښتنه وکړه چې ورته جوابونه ورکړي. جنورۍ په میاشت کې ۴۰ مهاجر د مدیترانې په سمندر کې لادرکه شول چې تر نن پورې لادرکه دي.**

**د مهاجرو یوه ډله چې اکثریت یې ځوانان او ژنکیان ول، د صفاقس ولایت له الجنشه ښارګوټي څخه ول. هغوی د صفاقس له بندري ښار څخه د اروپا پر لور په کښتۍ کې حرکت کړی و، هغه په دې هیله چې د ایټالیې لامپېدوسا ټاپو ته به ورسیږي. یاد ټاپو له تونس څخه په ۱۵۰ کلومترۍ کې واقع دی.**

**فاتح بن فرحت چې عمر یې ۴۵ کلن دی، د فرانس پرېس خبري آژانس ته ویلي دي: «موږ تر اوسه د هغوی په هکله هیڅ معلومات نه لرو.» دغه سړی وایي چې ۱۷ کلن وراره چې مالک نومیدی له هغو لادرکه شوو مهاجرو څخه یو دی چې د جنورۍ د ۱۱ نېټې په شاوخوا کې په سمندر کې ورک شول.**

**فاتح بن فرحت زیاته کړې ده چې وراره مالک یې عالي مکتب په نیما پرېښود او غوښتل یې چې میکانیک جوړ شي. په وینا یې هغه غوښتل چې ایټالیې ته ولاړ شي او هلته د میکانیک کسب زده کړي، چېرې چې یې مشر ورور تر مخه لا د مهاجر په توګه ژوند کوي. د مالک ورور څو میاشتې تر مخه ایټالیې ته رسېدلی و.**

**په تونس کې د بې روزګارۍ شرحخه ۳۸ سلنه ده او زیات ځوانان د بېکارۍ له کبله دې ته زړه ښه کوي چې اروپا ته مهاجر شي. هغوی هیله کوي چې په اروپا کې به بهتر ژوند ولري. خو زیات وختونه هغوی په سمندر او د مهاجرت پر لارو د حادثو سره مخامخ کیږي.**

خبرنامه